عمومي اسامبله
امنيت شورا

خپرېدل: عمومي
۱۴ سپتمبر ۲۰۲۲
اصل: انګليسي

**عمومي اسامبله**
**اووه اويايمه ناسته**
د موقتي اجنډا ۳۵ ماده
**په افغانستان کې وضعيت**

**امنيت شورا**
**اووه اويايم کال**

## په افغانستان کې وضعيت او پر نړيوالې سولې او امنيت يې اغيزې

## د سرمنشي راپور

### لومړی. مقدمه

۱. دا راپور د عمومي اسمبلۍ د ۶۸/۱۱ ګڼه پرېکړه ليک او د امنيت شورا د ۲۶۲۶ (۲۰۲۲) ګڼه پرېکړه ليک پر بنسټ سپارل شوی دی، چې په کې له سرمنشي غوښتل شوي څو په هرو درېو مياشتو کې د افغانستان د وضعيت او په افغانستان کې د ملګرو ملتونو مرستندويه پلاوي (يوناما) د ماموريت د تطبيق په اړه، د ولايتي او محلي کچې په ګډون، راپور ورکړي.

۲. دا راپور د ۲۰۲۲ کال د جون په ۱۵ نېټه خپور شوي راپور (A/76/862-S/2022/485) راهيسې په افغانستان کې د ملګرو ملتونو د کړنو لکه سياسي، بشردوستانه، او بشري حقونو هڅو په هکله تازه معلومات وړاندې کوي.

### دويم: اړوند بدلونونه

۳. د طالبانو واکمنو چارواکو د ۲۰۲۱ کال د اګست له ۱۵ نېټې راهيسې يو کال وروسته پر افغانستان خپل اداري کنټرول لا پسې پياوړی کړی دی. د انجونو په ثانوي زده کړو د بنديز په ګډون، د ښځو او انجونو په بنسټيزو حقونو او ازاديو باندې سخت لګول شوي بنديزونه لا هم دوام لري، چې په دې توګه افغانستان يوازينی هېواد دی چې د انجونو د زده کړې پر بشپړو حقونو پکې بنديز دی. د امريکا متحده ايالاتو لخوا په کابل کې د القاعده د مشر د مړينې اعلان د ترهګريزو ډلو او طالبانو ترمنځ د دوامداره اړيکو له شتون څخه پرده پورته کوي، چې په دې وروستيو کې د دې ډلې لخوا د ترهګرۍ پر وړاندې مبارزې ژمنتياوو خلاف کړنه ګڼل کېږي. په ورته وخت کې، د سخت اقتصادي زوال او د لسيزو جګړو، اوږدمهاله زيانمنې، وروستيو زلزلو او تکراري طبيعي افتونو د ويجاړوونکي وضعيت له امله بشري اړتياوې لا پسې زياتې شوې، چې شاوخوا ۲۴،۴ ميليونه خلک، يا د اټکل شوي نفوس ۵۹ سلنه يې اغېزمن کړي دي. ملګرو ملتونو له بشري مرستو هاخوا، د افغانستان لپاره د مرستو د نوې طرحې او بې د عملي کولو په موخه د همغږۍ هڅو ته دوام ورکړی.

#### الف. سياسي بدلونونه

۴.	د طالبانو واکمنو چارواکو د اګسټ پر ۱۵ نېټه، د کابل له نیولو وروسته د خپلې واکمنۍ لومړی کال ونمانځه. په دغه نمانځغونډه کې د واکمنو چارواکو څرګندونې تر ډېره پر هغو څه متمرکزې وې چې هغوی یې لاسته راوړنې بولي، لکه د اسلامي نظام رامنځته کول او پر بهرنیو ځواکونو برلاسي کېدل، او په ورته مهال کې یې د دوامداره اقتصادي او نورو ننګونو په اړه انتقادي نظرونه هم وړکړل. واکمنو چارواکو د دغې کلیزې څخه مخکې، ملت ته د حساب‌ورکونې د یو لړ غونډو اعلان وکړ، چې په ترڅ کې یې د وزارتونو او دولتي ادارو استازو خپل کلني فعالیتونه و ارزول او د راتلونکي کال لپاره یې خپل پلانونه وړاندې کړل.

۵.	طالبانو د ملي یووالي د پیاوړتیا لپاره د ذکر شوې موخې په درلودلو سره د جون میاشتې په پای کې په کابل کې یوه درې ورځنۍ غونډه جوړه کړه، چې د ښځو، مدني ټولنې استازو او رسنیو له ګډون پرته، ۴۵۰۰ دیني عالمانو او قومي مشرانو پکې برخه اخیستې وه. د راپورونو له مخې د طالبانو مشر، هبت الله اخندزاده په حضوري ډول یادې غونډې ته وینا وکړه او د اسلامي ارزښتونو د ساتلو او د علماوو د نقش پر اهمیت او د افغانانو په خپلمنځني موضوعاتو کې یې د بهرنیانو د مداخلې پر مخالفت باندې یې خبرې وکړې. د افغان وګړو غبرګونونو د نجونو د زده کړو، د بېوزلۍ د کمولو او د سوداګرۍ او اقتصادي وضعیت د ښه والي په څېر مسایلو ته د رسېدنې لپاره د هڅو د نشتوالي په اړه عمومي ناخوښي څرګندوي. د اګسټ په ۱۸نېټه په کندهار کې دویمه غونډه وشوه، چې ډېری ګډونوال یې د طالبانو د جنوبي سمت غړي، د واکمنو وزیران او سوداګر او استادان او هغه ځوانان وو چې له طالبانو سره تړاو لري یا هغوی ته نږدې دي. په دې غونډه کې بحثونه پر سیاسي او اقتصادي اړخونو متمرکز وو، چې پکې ملي یووالي، د علماوو درناوي او د نړیوال رسمیت د ترلاسه کولو هڅو باندې بحث وشو.

۶.	د طالبانو د واکمنېدو له لومړنۍ کالیزې مخکې یو شمېر مخالفو لورو ځینې څرګندونې وکړې، چې پکې د یو ټولګډونه دولت پر رامنځته کېدو او د ټولو افغانانو د حقونو پر رعایت باندې ټینګار شوی دی او په ورته وخت کې د ترهګرۍ پر وړاندې مبارزې او د اقلیتونو د خوندي ساتنې په برخو کې د دوی ورېتیا تر پوښتنې لاندې راوستې ده. د ملي مقاومت جبهې خپل "بنسټیز لارښودونه" خپاره کړل، چې په کې یې د هر ډول سیاسي، نظامي او ټولنیز-کلتوري مقاومت لپاره اسلامي استدلال وړاندې کړی دی. د افغانستان د ژغورنې لپاره د ملي مقاومت عالي شورا خپل منشور تصویب کړی، چې په کې د ټاکنو پر اهمیت ټینګار شوی دی. د دوو نوو ډلو، جمهوري خوځښت او د افغانستان ملي اتحاد، له اعلان سره، اپوزیسیون تر ډېره پورې ټوټه ټوټه پاتې دی.

۷.	د واکمنو چارواکو د تمرکز له برخو څخه یوه یې له هېواده بهر د افغانانو، د پخواني حکومت د چارواکو په ګډون، د بېرته راستنېدو لاره هوارول دي. له پخوانیو افغان چارواکو او سیاسي څېرو سره د بېرته راستنېدو او اړیکو کمېسیون د مې په ۲۰ نېټه خپله لایحه اعلان کړه، چې پکې د راستنېدونکو لپاره د خوندیتوب کارتونو برابرول او په خصوصي سکتور کې د دندې فرصتونه شامل وو. دغه کمېسیون له هغه راهیسې د پخوانیو حکومتي چارواکو او سیاسي څېرو له ډلې د ۱۰۰ څخه د زیاتو کسانو د بېرته راستنېدو اعلان کړی دی. ځینو راستنېدونکو ویلي چې د سیاسي ګډون محدود فرصتونه ورته ورکول شوي او له بېرته راستنېدو وروسته یې د اوسنیو واکمنو چارواکو له لورې کافي ملاتړ نه دی ترلاسه کړی.

۸.	زیاتره ملکي کارکوونکي لا هم د واکمنو چارواکو سره په دندو بوخت دي. ډېری ښځینه ملکي کارکوونکو ته، له هغو څو استثناوو پرته چې په ښوونې او روزنې، روغتیا، کډوالۍ او ځینو امنیتي دندو لکه پولیسو او د توقیف ځایونو کې کار کوي، دندو ته د تګ اجازه نه ورکول کېږي، خو لا هم هغوی ته خپل معاشونه ورکول کېږي. د واکمنو چارواکو د مالیې وزارت د معلوماتو له مخې، د ملکي کارکوونکو معاشونه د جولای تر میاشتې پورې ورکړل شوي دي. تقاعدونه لا هم نه دي ورکول شوي، سره له دې چې د ۱۴۰۱ مالي کال (۲۰۲۲) په ملي بودیجه کې ۴۴،۴میلیونه ډالر د تقاعد حقونو د ورکړې لپاره ځانګړي شوي دي. د

روغتیايي مرکزونو کارکوونکو ته لا هم د نړیوالو بشري مرستندویه شریکانو له خوا په مستقیمه توګه معاشونه ورکول کېږي. د طالبانو واکمنو چارواکو لخوا په ملي او ولایتي کچو د چارواکو ټاکنې لا هم دوام لري، چې پکې وزیران، معینان او رئیسان شامل دي. د واکمنو چارواکو وزیران لا هم د سرپرستانو په توګه خپلې چارې پرمخ وړي. د واکمنو د چارو په اداره کې د اداري اصلاحاتو او ملکي خدمتونو کمیسیون د جولای په ۲۶ نېټه اعلان وکړ چې د ملکي خدمتونو بستونو لپاره به ګمارنه د اسلامي ورتیا پر بنسټ وي. واکمنو چارواکو د خپلو ولایتونو د والیانو په اداري جوړښت کې د بدلونونو پلي کول هم پیل کړل، او د ټولنیزو چارو لپاره د ولایت د مرستیال والي بستونه یې له منځه یوړل، هغه څوکۍ چې د پخواني حکومت له خوا د ښځو لپاره ځانګړې شوې وه.

۹. د واکمنو چارواکو د کابینې غړو په ولایتي او محلي کچه، له ځايي چارواکو او د خلکو له بېلابېلو قشرونو لکه قومي مشرانو، د علماوو شوراګانو، مدني ټولنو او رسنیو سره، خپل تعاملات زیات کړي او په خپلو پیغامونو کې یې د قومونو ترمنځ یووالي او د ټولنو ترمنځ د کلتوري اړیکو پر پیاوړتیا ټینګار کړی دی. واکمنو چارواکو د ټولنیزو شخړو د حل لپاره، د شخړو د حل او کمولو محلي میکانیزمونه رامنځته کړي، چې پکې د ځمکې د مالکیت د لانجو، د کوچیانو او اوسېدونکو ترمنځ د موسمي کډوالۍ، او د قبیلوي شخړو د حل لپاره اقدامات شامل دي. په جولای میاشت کې، د لغوه شوو ولایتي شوراګانو پر ځای څلور نوي ولایتي شوراګانې جوړې شوې، چې تر اوسه پورې په ۳۴ ولایتونو کې په ۱۴ ولایتونو (بادغیس، فراه، غزني، غور، هرات، کندهار، خوست، نیمروز، پکتیا، پکتیکا، پنجشېر، سمنګان، ارزګان او زابل) کې ولایتي شوراګانې رامنځته شوې دي. ښځې د دغو شوراګانو په ترکیب کې ونډه نه لري.

۱۰. د نافذه قانوني چوکاټونو په اړه ابهام او همداراز د ظرفیت محدودیتونه د عدلي سکتور له مهمو ننګونو څخه دي. د طالبانو د محاکمو کړنې په غیرشفاف ډول دوام مومي. داسې راپورونه شته چې قاضیانو د ښځو د شکایتونو له اورېدو ډډه کړې او لارښوونه یې کړې چې د کورنۍ د حقوقو اړوند قضیې دې د منځګړيتوب یا د شخړو د دودیزو حل‌لارو له لارې حل شي. د واکمنو د عدلیې وزارت د جون په ۲۵ نېټه د نارینه مدافع وکیلانو د جواز ورکولو بهیر پیل کړ. د اګسټ تر ۱۳ نېټې پورې، د ۶۱۰ نارینه غوښتونکو تحصیلي اسناد او کاري تجربې وارزول شوې او ۵۵۴ کسانو ته جوازونه ورکړل شوي دي. ښځې له دغه بهیر څخه ایستل شوې دي. د عدلي سکتور ډېری پخواني کارکوونکي، سره له دې چې په رسمي ډول نه دي منفک شوي، لا هم له عدلي سکتور څخه محروم پاتې دي او معاشونه نه ورکول کېږي. راپورونه شته چې په ځانګړي ډول پخوانۍ ښځینه عدلي کارکوونکې له ګواښونو، ډاروني او اقتصادي ستونزو سره مخ دي.

۱۱. د واکمنو امنیتي ځواکونو د مسلکي کولو هڅې دوام لري. د واکمنو دفاع وزارت د جون په ۹ نېټه اعلان وکړ چې د ۱۳۰ زره کسیز ملي پوځ د جلب او جذب پروسه بشپړه شوې ده. دغه وزارت په کابل کې د ګډې روزنې په مرکز کې پوځي روزنیز کورسونه پیل کړي او د پوځي اکاډمۍ لپاره یې نوملیکنه هم پیل کړې ده. د پولیسو روزنه هم دوام لري. د واکمنو کورنیو چارو وزارت د جون په نیمايي کې وویل چې په تېرو شپږو میاشتو کې شاوخوا ۳۵ زره پولیس روزل شوي، او د ښځینه پولیسو له دندو ګوښه کولو ادعا یې هم رده کړه، او زیاته یې کړه چې نوې فارغې شوې ښځینه پولیسې به د اړتیا په صورت کې وګومارل شي. همدارنګه، د پولیسو د نویو یونیفورمونو ویش پیل شوی، چې لومړی کابل او کندهار کې د ویش لړۍ پیل شوې ده. د واکمنو د پوځ ډېری غړو ته یوازې نامنظمې امتیازي پیسې ورکول کېږي، پرته له هغو لږ شمېر تخنیکي امنیتي کارکوونکو چې له تېر حکومت څخه پاتې دي او همدا راز نویو استخدام شویو کسانو څخه چې رسمي تشکیلاتو ته داخل شوي، او پولیسو، چې هغوی خپل منظم معاشونه ترلاسه کوي.

۱۲.	د ملګرو ملتونو چارواکي او د یوناما مشرتابه له واکمنو چارواکو سره تعامل ته دوام ورکوي، او د بنسټیزو حقونو او ازادیو د ساتنې پر اهمیت، په ځانګړې ډول د ښځو پر حقونو او د نجونو د زده کړو پر حق، ټینګار کوي؛ همدارنګه د ټولګډونه، مشارکتي او ځواب ویونکي حکومتولۍ د ودې او د ترهګرۍ پر وړاندې مبارزې لپاره د عملي اقداماتو غوښتنه کوي. یوناما د هېواد په کچه د خپلو ساحوي او ولایتي دفترونو له لارې، د واکمنو چارواکو، د ټولنې د مشرانو، مذهبي ډلو او مدني ټولنې ترمنځ د اړیکو او تعامل اسانتیا رامنځته کولو ته دوام ورکوي. د مدني ټولنې بنسټونه، په ځانګړې ډول د ښځو له لوري رهبري کېدونکي بنسټونه، د مدني فضا له تنګېدو، د ښځو د تګ راتګ پر وړاندې د جنسیتي محدودیتونو او د مرستندویانو د تمویل له جدي کمښت سره مخ دي. د یوناما د منځګړیتوب خدمتونو له لارې، په کابل کې د واکمنو ولایتي چارواکو ځوانان هم د محلي ادارې او د خدماتو د وړاندې کولو په مشورتي میکانیزم کې شامل کړل. په همدې ډول، واکمنو چارواکو په بدخشان، کابل او بامیان ولایتونو کې د ښځو له استازو سره د مشورو میکانیزمونه جوړ کړي دي.

## ب. امنیت

۱۳.	د راپور ورکولو موده د لوړې کچې هدفي وژنو، د طالبانو پر ضد د نوو ډلو راڅرګندېدو، د اسلامي دولت – خراسان څانګې (داعش-خراسان) له لوري د بریدونو، د طالبانو ترمنځ نښتو، او سرحدي امنیتي پېښو شاهده وه. د تحلیلي ملاتړ او د بندیزونو د څار ټیم دېرشم راپور چې د اسلامي دولت خراسان څانګې (داعش)، القاعده، طالبانو او اړوندو ادارو او افرادو په تړاو د ۱۵۲۶ (۲۰۰۴) او ۲۲۵۳ (۲۰۱۵) پرېکړه لیکونو پربنسټ چمتو شوی او د امنیت شورا د ۲۶۱۰ (۲۰۲۱) (S/2022/547) سره سم امنیت شورا ته سپارل شوی، ښیي چې بهرنۍ وسلهوالې ډلې لا هم په افغانستان او شاوخوا سرحدي سیمو کې حضور او فعالیت لري. په راپور کې ویل شوي چې القاعده لا هم له طالبانو سره اړیکې لري او په دې هېواد کې ازاد تګ راتګ لري. واکمنو چارواکو د دې راپور موندنې رد کړې دي. متحده ایالاتو د اګست په لومړۍ نېټه، د القاعده د مشر ایمن الظواهري د وژل کېدو اعلان وکړ. طالبان چې د هغه له حضور څخه یې ناخبري وښوده، متحده ایالات یې د افغانستان د ځمکنۍ بشپړتیا پر نقضولو تورن کړل او دا کار یې وغنده، او د اګست په ۵ او ۶ نېټو یې په ټول هېواد کې پراخ لاریونونه ترسره کړل. د پاکستاني طالبانو د تحریک (TTP) یو لوړ پوړی غړی، عبدالولي راخب (چې په عمر خالد خراساني مشهور و) او ورسره د دې ډلې درې نور غړي د اګست په ۷ نېټه د پکتیکا ولایت په برمل ولسوالۍ کې د یو ځای پرځای شوي ماین په چاودنه کې ووژل شو، چې هیڅ کومې ډلې یې پړه په غاړه وانخیسته.

۱۴.	د مې له ۲۲ څخه د اګست تر ۱۶ پورې، د جنګ جګړو اړوند امنیتي پېښو او د ملکي تلفاتو شمېر د ۲۰۲۱ کال د همدې مودې په پرتله په څرګند ډول راکم شوی دی. ملګرو ملتونو ۱۶۴۲ امنیتي پېښې ثبت کړې، چې دا د تېر کال د ۷۳۱۴ پېښو په پرتله ۷۷،۵ سلنه کموالی ښيي. ترلاسه شوي معلومات ښیي چې وسلهوالې نښتې د ۹۷ سلنه کموالي په درلودلو سره له ۴۶۲۰ څخه ۱۲۹ ته راټیټې شوې، هوایي بریدونه د ۹۹،۵ سلنه کموالي په درلودلو سره له ۵۶۴ څخه ۳ ته راکم شوي، د ښځو شوو بمونو چاودنې د ۸۷ سلنه کموالي په درلودلو سره له ۵۹۰ څخه ۷۶ ته راکمې شوي، او هدفي وژنې د ۷۰ سلنه کموالي په درلودلو سره له ۲۹۴ څخه ۸۸ ته راکمې شوې دي. سره له دې، د ۲۰۲۲ کال په لومړیو اوو میاشتو کې د امنیتي پېښو شمېر په تدریجي ډول زیات شوی، چې یوازې د جولای په میاشت کې ۵۴۷ پېښې ثبت شوې دي چې تر دا مهاله په ۲۰۲۲ کال کې تر ټولو لوړه کچه ده چې په ترتیب سره په تېر جنوري او جون میاشتو کې د ثبت شوو پېښو په پرتله ۳۳،۷ سلنه او ۷،۳ سلنه زیاتوالی ښيي. د خراب اقتصادي او بشري وضعیت له امله، جنایي پېښې لا هم زیاتې دي چې د مې ۲۲ او اګسټ ۱۶ ترمنځ موده کې دغه ډول ۳۷۳ پېښې ثبت شوي چې د ۲۰۲۱ کال د ورته مودې د ۳۰۰ پېښو په پرتله زیاتوالی په ګوته کوي. لوېدیځې،

سوېلي، ختيځې او شمال ختيځې سيمې د ټولو پېښو ۶۲ سلنه جوړوي چې هرات، کابل، کندهار او ننګرهار د يادو پېښو له امله تر نورو ډېر اغېزمن شوي ولايتونه دي.

۱۵. وسله‌والو مخالفو ډلو پر طالبانو بريدونه او نښتې زياتې کړې دي. نويو ډلو هم د طالبانو پر ضد په افغانستان کې د حضور ادعا کړې ده. د دغو ډلو د غړو شمېر او ورتياوې ارزول ستونزمن دي. يوناما لږ تر لږه د ۲۲ هغو ډلو په اړه معلومات لري چې ادعا کوي په ۲۶ ولايتونو کې فعاليت لري، خو هېڅ يوې د پام وړ سيمې تر خپل کنټرول لاندې نه دي راوستلې. د ملي مقاومت جبهې او د ملي آزادي جبهې په څو ولايتونو کې د بريدونو مسئوليت منلی دی، چې پکې پنجشېر، بغلان، تخار او کاپيسا ولايتونه شامل دي. د ملي مقاومت جبهې په پنجشير او بغلان ولايتونو کې له طالبانو سره نښتې کړي او ادعا يې کړې چې د جولای په ۱۹ نېټه يې د بغلان اندراب او خوست ولسوالۍ او د اګسټ په نيمايي کې د پنجشېر ولايت په شېرو ولسواليو کې اووه درې له طالبانو څخه نيولي دي.

۱۶. د داعش-خراسان له لوري ادعا شوي يا دوی پورې اړوند بريدونه کم شوي دي. د مۍ له ۲۲ څخه د اګسټ تر ۱۶ پورې، ملګرو ملتونو په ۱۱ ولايتونو کې د دې ډلې ۴۸ بريدونه ثبت کړي، حال دا چې د ۲۰۲۱ کال په همدې موده کې په ۸ ولايتونو کې ۱۱۳ بريدونه ثبت شوي وو. داعش-خراسان ډلې د ملکي وګړو په نښه کولو ته دوام ورکړی، په ځانګړې ډول شيعه هزاره، هندوان، سيکان، صوفيان او طالبان د دې ډلې هدفونه دي. يادې ډلې په کابل کې د مۍ په ۲۲ نېټه د ملا اختر محمد منصور د تلين پر مراسمو، د مۍ په ۲۵ نېټه په مزار شريف کې د ملکي وګړو لېږدوونکو درېيو کوچنيو بسونو، د جون په ۱۸ نېټه په کابل کې د سکهانو پر درمسال، د جولای په ۴ نېټه په هرات کې د واکمنو د امنيتي ځواکونو پر لېږدوونکې بس او د اګسټ په ۱۳ نېټه په کابل کې د طالبانو د مدرسې پر يوه ملا د بريدونو ادعاوې کړې دي. هغه بريدونه چې کومې ډلې يې پړه پر غاړه نده اخيستې او ښايي د داعش-خراسان ډله پکې ښکيل وي، د جولای په ۲۷ نېټه په کابل کې د سکهانو په يوه هټۍ کې چاودنه او د جولای په ۲۹ نېټه د کابل په نړيوال کرېکټ لوبغالي کې چاودنه شامل دي. د علماوو په ستره غونډه د جون په ۳۰ او د جولای په لومړۍ نېټه د ترسره شوو بريدونو مسؤوليت د ملي مقاومت جبهې او داعش-خراسان ډلې منلی دی. داعش-خراسان ډلې د اګسټ په ۸ نېټه د عاشورا ورځې له نمانځلو مخکې، په کابل کې پر هزاره اهل تشيع خپل بريدونه زيات کړي، چې په پايله کې يې يو شمېر کسان وژل شوي او ټپيان شوي دي. په دغو بريدونو کې د اګسټ په ۵ نېټه د عاشورا د يادغونډې پر مراسمو کې چاودنه، د اګسټ په ۶ نېټه د اهل تشيع په ګڼه مېشته سيمه کې چاودنه او د اګسټ په ۷ نېټه د يو ټونس موټر هدف ګرځولو چاودنه شامل دي.

۱۷. د پښتنو او غير پښتنو طالبانو ترمنځ په بدخشان، باميان، سرپل او تخار ولايتونو کې د داخلي نښتو راپور ورکړل شوی دی. د دغو نښتو تر ټولو ستره او د پام وړ نښته د واکمنو امنيتي ځواکونو او د هزاره طالبانو ترمنځ چې مشري يې مولوي مهدي مجاهد کوله، رامنځته شوې ده. دا نښتې د طالبانو په ليکو کې د عوايدو د راټولولو پر سر د اختلاف او د هزاره او شيعه لږکيو د استازيتوب پر سر رامنځته شوې وې. د واکمنو امنيتي ځواکونو د جون له ۲۳ تر ۲۵ پورې پوځي عمليات وکړل، چې په پايله کې يې په بلخاب ولسوالۍ کې له مولوي مهدي سره وسله‌والې نښتې وکړې چې د راپورونو له مخې نوموړی غرونو ته وتښتېد او په پايله کې يې ملکي وګړي له خپلو کورونو بې ځايه کېدو ته اړ شول. واکمنو چارواکو د اګست په ۱۷ نېټه د هرات ولايت او ايران ترمنځ سرحدي پوله کې د مولوي مهدي د وژل کېدو خبر ورکړ.

۱۸. د افغانستان د پولې په اوږدو کې، په ځانګړې ډول له پاکستان، ايران او ازبکستان سره، د سرحدي شخړو پېښې او امنيتي پېښې لا هم دوام لري. د پاکستان او افغانستان ترمنځ پر فرضي کرښه د بيلابيلو امنيتي پېښو راپور ورکړل شوی، چې پکې

د اګست په ۸ نېټه د کونړ ولایت د دانګام ولسوالۍ د بن شاهي په سیمه کې پر کربښه د واکمنو امنیتي ځواکونو او د پاکستان د پوځ ترمنځ د وسله‌والې نښتې ادعا وشوه. همدارنګه، د افغانستان او د ایران اسلامي جمهوریت ترمنځ پر پوله یو شمېر امنیتي پېښې، د واکمنو امنیتي ځواکونو او ایراني ځواکونو ترمنځ د وسله والو نښتو په ګډون، راپور شوې چې د جون په ۲۲ او ۲۸، د جولای په ۱۱ او ۳۱، او د اګست په ۱۰ نېټه رامنځته شوې وې. په همدې حال کې، د جولای په ۵ نېټه، له افغانستان څخه توغول شوي راکټونه، چې ښايي داعش خراسان ډلې پکې لاس درلود، د ازبکستان د ترمذ ښار او شاوخوا سیمو کورونه په نښه کړل، چې ازبکستان هم دغه پېښه تأیید کړه.

۱۹. یوناما په جولای میاشت کې له اړوندو واکمنو چارواکو او د سیمې له غړو هېوادونو سره د کوچنیو وسلو او سپکو وسلو په اړه خبرې اترې پیل کړې. د وسلو او مهماتو ناقانونه خپرېدل لا هم په افغانستان کې او د سیمې هېوادونو لپاره جدي امنیتي ګواښ بلل کېږي. د واکمنو امنیتي ځواکونو د ناقانونه وسلو د ضبط لپاره د پلټنو او نیونو له لارې خپلې هڅې پیل کړې دي.

۲۰. ملګرو ملتونو د می له ۲۲ څخه د اګست تر ۱۶ پورې، ۵۸ هغه پېښې ثبت کړې دي چې په مستقیم ډول يې د ملګرو ملتونو کارکوونکي اغېزمن کړي دي. په دغو پېښو کې ۳۰ د تهدیدولو پېښې، ۱۰ جنايي پېښې، ۲ نیونې، او ۹ هغه پېښې شاملې دي چې د یاد سازمان دفترونه، کمپاونډونه او شتمنۍ يې اغېزمن کړي دي. دا شمېر د ۲۰۲۱ کال د ورته مودې د ۳۴ پېښو په پرتله زیاتوالی ښيي.

### ج. سیمه ایزه همکاري

۲۱. د طالبانو واکمنو چارواکو له سیمه‌ییزو هېوادونو سره خپلو ډیپلوماټیکو او اقتصادي اړیکو ته دوام ورکړی، چې د دغو هېوادونو استازو په ښکاره ویلي چې د واکمنو چارواکو د حکومت په رسمیت پېژندنې ته لا هم وخت شته. سیمه‌ییز او سرحدي امنیت، د ترهګرۍ پر وړاندې مبارزه، د نشه اي توکو قاچاق، د ښځو حقونه، د نجونو زده کړې او ټولګډونه حکومت د دوی ترمنځ د خبرو اترو عمده موضوعات دي. تاجکستان د می په ۲۶ او ۲۷، د چین، هند، ایران، قزاقستان، قرغزستان، روسیې او ازبکستان د ملي امنیت سلاکارانو د غونډې کوربه و. د دې غونډې ګډونوالو واکمن چارواکي وهڅول چې یو ټولګډونه سیاسي جوړښت رامنځته کړي، پایداره کورنۍ او بهرنۍ سیاست تعقیب کړي، د نړیوالو قوانینو له اصولو سره سم عمل وکړي او د ترهګریزو عناصرو د له منځه وړلو لپاره ګامونه پورته کړي. د افغانستان لپاره د اروپايي ټولنې او د منځنۍ آسیا هېوادونو ځانګړو استازو د می په ۳۱ نېټه د قزاقستان په الماته ښار کې غونډه وکړه، څو د سیمه‌ییز امنیت پر ننګونو، په ځانګړي ډول پر دې خطر بحث وکړي چې په افغانستان کې احتمالي امنیتي تشه ښايي دا هېواد د ترهګرو ډلو لپاره پر امن ځای بدل کړي.

۲۲. ازبکستان د جولای په ۲۶ نېټه په تاشکند کې د افغانستان په اړه نړیوال کنفرانس کوربتوب وکړ، چې د واکمنو د بهرنیو چارو وزیر، امیرخان متقي په مشرۍ لوړ رتبه پلاوي په کې ګډون کړی و. د دغه کنفرانس نړیوالو ګډون کوونکو د ترهګرۍ پر وړاندې مبارزې، نشه اي توکو پر وړاندې مبارزې هڅو، اقتصادي او زیربنايي پراختیا، ټولګډونه حکومت او د ښځو حقونو او انجونو د زده کړې حقونو په ګډون، بشري حقونو ته د درناوي پر اهمیت باندې ټینګار وکړ. د طالبانو پلاوي پر هغو څه ټینګار وکړ چې دوی يې خپلې لاسته راوړنې بولي، چې پکې سرتاسري امنیت او داسې حکومت شامل و چې په بشپړه توګه له کورنیو عوایدو تمویلېږي، خو په ورته وخت کې يې د نړیوالې ټولنې اندېښنې کمې مهمې وبللې. د شانګهای همکارۍ سازمان د غړو هېوادونو د بهرنیو چارو وزیرانو د غونډې په څنډه کې، چې د جولای په ۲۸ نېټه ترسره شوه، ښاغلي متقي د ازبکستان له

لوړپوړو چارواکو، د چین او پاکستان د بهرنیو چارو وزیرانو، او د افغانستان لپاره د امریکا متحده ایالاتو له ځانګړي استازي سره لیدنې وکړې.

۲۳. اقتصادي پراختیا، سوداګري او ترانزیت د واکمنو چارواکو او سیمې ترمنځ د تعامل لپاره یو بل مهم لومړیتوب دی. د طالبانو لوړپوړو پلاوو د اړوندو موضوعاتو په هکله د بحث او خبرو اترو په موخه د جون له ۱۵ تر ۱۸نېټې پورې او د اګست له ۱۳ تر ۲۱ نېټې پورې روسیې، او د جولای له ۲ تر ۴ نېټې پورې ازبکستان ته سفرونه وکړل. د سیمې د هېوادونو شرکتونو په افغانستان کې د استخراجي صنایعو په سکتور کې پانګونې ته لېوالتیا ښودلې ده. د پاکستان یو سوداګریز پلاوی د جولای په ۱۸نېټه کابل ته راغی او د ډبرو سکرو او نورو توکو د صادراتو د زیاتوالي په اړه یې خبرې وکړې. د پاکستان حکومت د جولای په ۲۸ نېټه په دغه هېواد کې د هوا - سړک څو اړخیز ترانزیټي دهلېز تصویب کړ، څو د پاکستان د نړیوالو هوایي ډګرونو له لارې د افغاني وارداتو او د افغاني ترانزیټي صادراتي توکو لېږد اسانه کړي. همدارنګه، د جولای په ۲۸ نېټه چین اعلان وکړ چې چمتو دی د"یو کمربند، یوې لارې" نوښت د افغانستان د پراختیایي ستراتیژیو سره همغږی کړي او د پاکستان په همکارۍ د چین او پاکستان اقتصادي دهلېز افغانستان ته وغځوي.

۲۴. زیربنايي پروژې لا هم په سیمه ایزو بحثونو کې یوه عمده موضوع ده. د ترکمنستان یوه پلاوي د جون په ۷ نېټه کابل ته سفر وکړ څو د تاپي پروژې اړوند د مالیاتو او د یادې پروژې په مسیر کې پرتو ځمکو د ځانګړي کولو په هکله بحث او خبرې اترې وکړي. طالبانو له دې مخکې د دې پروژې لپاره د امنیت ټینګولو په موخه د یوې ځانګړې قطعې د جوړولو اعلان کړی و. د ازبکستان حکومت او واکمنو چارواکو د اګست په لومړیو کې له ترمذ څخه د مزار او کابل له لارې تر پېښوره پورې د ریل پټلۍ پروژې د سروې او نقشه کشۍ د پیل اعلان کړی و.

۲۵. افغانستان او ایران ترمنځ د هلمند پر سیند حق آبه په هکله خبرې اترې لا هم دوام لري. د ۱۹۷۳ کال د هلمند سیند د اوبو تړون د تطبیق لپاره د کمیشنرانو ګډې کمېټې پنځه ویشتمه غونډه د جون په ۱۵ نېټه په تهران کې ترسره شوه. واکمنو چارواکو له هغې وروسته د اګست په ۵ نېټه د هلمند سیند اوبه د نیمروز ولایت له کمال خان بند څخه د ایران سیستان او بلوچستان آیالت ته ورپرېښودې. د ایران د انرژۍ وزیر، علي اکبر محرابیان د اګست په ۱۰ نېټه او د افغانستان لپاره د ایران ځانګړي استازي، حسن کاظمي قُمي د دغه تړون پر بنسټ د هلمند سیند په اوبو کې د خپل هېواد د ونډې په هکله د لا زیات بحث او خبرو اترو په موخه په کابل کې له واکمنو چارواکو سره لیدنې وکړې.

۲۶. یوناما د خپلې سیمه‌ییزې همکارۍ د دندې له مخې، له اړوندو واکمنو چارواکو سره، د سیمه‌ییزې همکارۍ په ګډون، په نورو برخو کې خبرې اترې وکړې او د هڅو د همغږۍ لپاره یې په کابل کې د مېشتو سیمه‌ییزو هېوادونو د سفیرانو منظمو غونډو کوربتوب وکړ. یوناما همدا راز د افغانستان لپاره د اروپايي ټولنې او د منځنۍ آسیا هېوادونو د ځانګړو استازو په غونډه کې، چې د مۍ په ۳۱ نېټه په الماته کې ترسره شوه، او همدارنګه د افغانستان په اړه په نړیوال کنفرانس کې، چې د جولای په ۲۶ نېټه په تاشکند کې جوړ شوی و، ګډون وکړ. د منځنۍ آسیا لپاره د مخنیوي ډیپلوماسۍ د ملګرو ملتونو له سیمه‌ییز مرکز سره د دوامدارې همکارۍ په چوکاټ کې، د یوناما استازو په هغې غونډه کې ګډون وکړ چې د سیمه‌ییز مرکز او د ترهګرۍ پر وړاندې مبارزې دفتر له خوا د جون له ۲۷ تر ۳۰ پورې د ترکیې په استانبول ښار کې جوړه شوې وه، ترڅو په افغانستان کې د بدلېدونکي وضعیت په رڼا کې د منځنۍ آسیا لپاره د ترهګرۍ پر وړاندې مبارزې لومړني خبرداري شبکې د جوړولو په هکله خبرې اترې او بحثونه وکړي.

## دریم: بشري حقونه

۲۷.	یوناما د جولای په ۲۰ نېټه په افغانستان کې د بشري حقونو د وضعیت په اړه خپل راپور خپور کړ، چې د ۲۰۲۱ کال د اګست په ۱۵ نېټه واک ته د طالبانو له رسېدو وروسته لس میاشتې موده رانغاړي.[1] یوناما د دې راپور لومړنۍ ترتیب شوې بڼه د حقایقو د ارزونې په موخه له واکمنو چارواکو سره شریکه کړه، او د دوی له لورې ورکړل شوي نظرونه او تبصرې د ضمیمې په توګه له دې راپور سره خپاره شول. د واکمنو چارواکو ویاند، ذبیح الله مجاهد په ټولنیزو رسنیو کې دا راپور ناسم وباله او زیاته یې کړه چې دا راپور د غلطو معلوماتو او منفي تبلیغاتو پر بنسټ جوړ شوی دی. د بشري حقونو د معیارونو او د ادعا شویو بشري حقونو سرغړونو د حساب ورکونې په اړه د یوناما او واکمنو چارواکو ترمنځ تعامل او خبرې اترې د دې راپور له خپرېدو وروسته په مرکزي او ولایتي کچو لا هم دوام لري.

۲۸.	د طالبانو لخوا په ۲۰۲۱ کال کې د عمومي عفوې له اعلان سربېره هم، یوناما د پخواني حکومت چارواکو او افغان ملي دفاعي او امنیتي ځواکونو د غړو پر وړاندې د غیر قانوني وژنو، ربړونې، بد چلند او بشري حقونو د نورو سرغړونو کره او باوري تورونو په اړه معلومات ترلاسه کړي دي. همدا راز هغه کسان چې د واکمنو چارواکو له خوا له وسلهوالو ډلو، د ملي مقاومت جبهې او داعش خراسان ډلې په ګډون، له نورو مخالفو ډلو سره په اړیکو درلودلو تورن شوي، د واکمنو چارواکو له خوا هم په نښه شوي دي. یوناما د راپور ورکولو په موده کې، د دغو کټګوریو د اشخاصو په اړه لږ تر لږه ۴۶ د غیر قانوني وژنو، لږ تر لږه ۱۵ د ربړونې او بد چلند پېښې، او لږ تر لږه ۷۳ د خپلسري نیونو او توقیفونو پېښې ثبت کړي دي.

۲۹.	یوناما د راپور ورکولو په موده کې، د واکمنو چارواکو له خوا له هغو کسانو سره د ظالمانه، غیر انساني او تحقیرونکو سزاوو ۳۷ پېښې ثبت کړې چې پر اخلاقي یا مذهبي سرغړونو تورن شوي وو. په دغو کسانو کې معمولاً هغه کسان شامل دي چې د زنا (غیر قانوني جنسي اړیکو) په جرم تورن دي، او همدارنګه هغه ښځې چې د مخ پټوونکي اسلامي حجاب د نه اغوستلو یا له محرم (نږدې نارینه خپلوان) پرته بل ځای ته پر تګ تورنې شوې دي. د بېلګې په توګه، د اګست په ۷ نېټه په زابل ولایت کې درې نارینه او دوې ښځې، چې د راپورونو له مخې د زنا او غلا په جرم محکوم شوي وو، په ولایتي لوبغالي کې په دورو ووهل شول. دغه سزا د واکمنو چارواکو لخوا د ملي رسنیو له لارې په علني ډول تأیید شوه.

۳۰.	د جون میاشتې په وروستیو کې داسې ادعاوې وشوې چې د سرپل ولایت د بلخاب په ولسوالۍ کې د واکمنو امنیتي ځواکونو او د مولوي مهدي د ملاتړو وسلهوالو کسانو ترمنځ د وسلهوالو نښتو په ترڅ کې، د واکمنو امنیتي ځواکونو له خوا د بشري حقونو پراخې سرغړونې شوې دي. یوناما د واکمنو امنیتي ځواکونو له خوا ۱۶ غیر قانوني وژنې، او همدارنګه یې د مولوي مهدي د ملاتړو وسلهوالو کسانو له خوا د دوو کسانو وژنې ثبت کړې دي.

۳۱.	یوناما داسې پېښې مستندې کړې چې په پایله کې یې ټولټال ۱۱۹ ملکي وګړي وژل شوي او ۴۴۰ نور ټپیان شوي دي. د راپور ورکولو په موده کې ملکي وګړو ته اوښتی زیان تر ډېره د داعش خراسان (ISIL-K) له خوا پر ملکي اهدافو د بریدونو له امله رامنځته شوی، چې ډېری وخت یې قومي او مذهبي لږکي په نښه کړي دي. د مې په ۲۵ نېټه په مزار شریف ښار کې په دریو مسافر وړونکو موټرو کې ځای پر ځای شوو چاودېدونکو توکو د چاودنې له امله ۹ کسان وژل شوي او ۳۸ نور ټپیان شوي دي. د کابل ښار په یوه شیعه مېشته سیمه کې د اګست په ۵ او ۶ نېټه د چاودېدونکو توکو دوه بریدونه ترسره شول چې لږ تر لږه

[1] په افغانستان کې د ملګرو ملتونو مرستندویه پلاوی، په افغانستان کې بشري حقونه: ۲۰۲۱ کال د اګست له ۱۵ تر ۲۰۲۲ کال جون ۱۵ پورې، جولای ۲۰۲۲. په دغه لینک د لاسرسي وړ دی: https://unama.unmissions.org/human-rights-monitoring-and-reporting

۲۰ کسان یې ووژل او لږ تر لږه ۱۱۰ نور یې ټپیان کړل. د اګسټ په ۷ نېټه په کابل ښار کې یو بل برید لږ تر لږه ۲ کسان وژلي او لږ تر لږه ۲۲ نور یې ټپیان کړي دي. د دغو بریدونو پړه د داعش خراسان ډلې په غاړه اخیستې ده. همدارنګه د کابل ښار په یوه سُني صوفي جومات کې د اګسټ په ۱۷ نېټه یو برید ۲۰ کسان وژلي او ۵۷ نور یې ټپیان کړي، چې هیڅ کومې ډلې د دغه برید مسؤولیت ندی منلی.

۳۲. د ۲۰۲۲ کال د اپرېل له ۱ نېټې څخه د جون تر ۳۰ نېټې پورې، د ماشومانو پر وړاندې د ښکاره سرغړونو د څارنې او راپور ورکولو هېوادنی کاري ډلې ټولټال ۴۵۰ جدي سرغړونې ثبت کړي، چې ۳۳۴ ماشومان (۲۸۰ هلکان او ۵۴ نجونې) یې اغېزمن کړي دي. همدارنګه، پر ښوونځیو د بریدونو ۲۵ پېښې، پر روغتونونو د بریدونو ۱۰ پېښې او د بشري مرستو د لاسرسي د منع کېدو ۷۹ پېښې ثبت او تایید شوې دي. سربېره پر دې، دغې کاري ډلې د ۱۴ څخه تر ۱۷ کلونو عمر لرونکو ۲۸ هلکانو استخدام او استفاده هم تایید کړي، چې ټولو یې په ګډو جګړه ایزو او ملاتړیزو فعالیتونو کې کار کړی دی. په ټولیز ډول، ۳۰۸ ماشومان وژل شوي یا ټپیان شوي دي، چې نږدې دوه پر دریمه برخه (۲۳۲) یې د بیلابیل ډوله ځای پر ځای شوو چاودېدونکو توکو، ماینونو او د جګړې پاتې شونو له امله زیانمن شوي دي.

۳۳. د بشري حقونو د ملاتړو، خبریالانو او د رسنیو کارکوونکو پر وړاندې د بشري حقونو سرغړونې—لکه ګواښونه، خپلسري نیونې او توقیفونه، همدا راز شکنجه او ناوړه چلند—د پراخو پالیسي اقداماتو د اغېزو ترڅنګ د رسنیو ازادي او مدني فعالیتونه محدود کړي دي. یوناما د مې له ۲۳ نېټې راهیسې، ۱۲ د خپلسري نیونو پېښې او د بشري حقونو د ملاتړو پر وړاندې د ګواښونو ۳ پېښې ثبت کړې دي، همدارنګه د خبریالانو او د رسنیو کارکوونکو (یوې ښځې په ګډون) پر وړاندې ۲۳ د خپلسري نیونو پېښې او د ناوړه چلند یا ګواښونو ۸ پېښې ثبت شوې دي، چې ټولې د واکمنو چارواکو لخوا شوي دي.

۳۴. په ټول هېواد کې د راډیوګانو او تلویزیونونو پر فعالیت د لګول شوي محدودیت راپورونه لا هم دوام لري، چې د رسنیو پر وړاندې د شدیدو مالي ننګونو شتون دغه محدودیتونه دوه برابره کړي دي. راپورونه ترلاسه شوي چې د واکمنو چارواکو له خوا په کابل کې لږ تر لږه دوه تلویزیونونه تړل شوي، چې ادعا کېږي لامل یې د خدماتو د بیلونو او مالیاتو نه ورکړه وه. د مې په ۱۹ نېټه د تلویزیون ښځینه ویندویانې په ځانګړي ډول د واکمنو د اطلاعاتو او فرهنګ وزارت له خوا مکلفې شوې چې د خپرونو پر مهال خپل مخونه پټ کړي. همدارنګه، د خبریالانو د نیولو او توقیف څو پېښې راپور شوي دي. د طالبانو مشر هبت‌الله اخندزاده د جولای په ۲۱ نېټه داسې لارښوونې صادرې کړې چې پکې د واکمنو چارواکو پر ضد د "ناسمو تورونو" لګول منع شول.

۳۵. افغان ښځې او نجونې په ځانګړي ډول د واکمنو چارواکو له خوا د صادر شوو لارښوونو د نابرابر عملي کېدو له امله لا هم زیاتې اغېزمنې دي. دا فرمانونه په ګډه یو داسې محدودونکی چاپېریال رامنځته کوي چې د ژوند په ټولو برخو کې ترې ښځې او نجونې اغېزمنېږي. د منځنیو زده کړو په عمر زیاتره نجونې لا هم زده کړو ته لاسرسی نه لري، چې لاملونه یې منځنیو ښوونځیو ته د نجونو پر تګ بندیز، ببوزلي، او د محرم او حجاب اړوند لارښوونو تطبیق دی. په ځانګړي ډول، دا لارښوونې د هغوی د تګ راتګ ازادي، او د عامه ترانسپورت څخه د دوی استفاده محدودوي. په څینو ولایتونو لکه بامیان، کندهار، مزار شریف او تخار کې، د دې لارښوونو سخت او جدي تطبیق د لاندې کړنو لامل شوی دی لکه: په عامه ترانسپورت کې د تللو پر مهال د حجاب او محرم شرایطو د نه رعایت له امله د ښځو فزیکي او لفظي ځورونه؛ د حجاب فرمان د رعایتولو په موخه ځای ځای د پلټنې محلونو جوړول؛ د حجاب د فرمان د نه مراعات له امله د ښځینه محصلانو د نوم‌لیکنې د یو اړخیز لغوه کولو ګواښونه؛ د حجاب تر وضع کولو وروسته په پوهنتونونو کې دننه د وضع شوو محدودیتونو له امله د ښځینه محصلانو له

خوا د خپلو تحصيلي پروګرامونو پربښودل؛ او د محرم نه درلودلو په صورت کې روغتيايي مرکزونو او دولتي ادارو ته د ښځو د ورتګ مخه نيول. په ټوليز ډول، ښځو راپور ورکړی چې د کورنيو، ټولنو او کارګمارونکو له خوا پر ښځو غيررسمي څارنه او محدودوونکی چلند زيات شوی، چې ډېری وخت د جنسيت اړوند لاربښوونو د نه رعايت احتمالي پايلو له وېرې ترسره کېږي.

۳۶. لا هم د ښځو او نجونو پر وړاندې د تاوتريخوالي د پېښو راپورونه ورکول کېږي، سره له دې چې واکمنو چارواکو ويلي چې دوی د واکمنو پوليسو د جنايي څېړنو مديريت له لارې شکايتونه ترلاسه کوي، ډېری قضيې د دوديزو ميکانيزمونو له لارې حل او فصل شوې دي، او راپورونه ښيي چې ناکامې قضيې د لا زياتو څېړنو لپاره پوليسو يا څارنوالۍ ته راجع شوې دي. هغه ښځينه بنسټونه چې د جنسيتي تاوتريخوالي اړوند خدمتونه وړاندې کوي، لا هم راپور ورکوي چې د خپلو فعاليتونو د ترسره کولو پر مهال له خنډونو سره مخ دي، چې د دغه ډول خنډونو په شتون کې ښځې او نجونې نشي کولای د تاوتريخوالي له حالتونو وتښتي او د خپلو قضيو راپور ورکړي. راپورونه ښيي چې د واکمنو چارواکو څو ادارې لکه، پوليس، د څارنوالۍ دفترونه، د علماوو شورا، او د امر بالمعروف او نهی عن المنکر وزارت، د ښځو د مدني او جنايي شکايتونو د څېړلو دنده لري، چې د کورني تاوتريخوالي پېښې هم پکې شاملې دي.

۳۷. په زندان کې د حبس په برخه کې افراد تر محاکمې دمخه د اوږدې مودې توقيف کې پاتې کېږي، چې لامل يې د واکمنو پوليسو له خوا د څېړنو په بشپړېدو کې ځنډ او د واکمنو د محاکمو له خوا په ځنډ سره د قضيو طی مراحل بلل کېږي. د اګست تر ۱۰ نېټې پورې د ۹۹۶۲ تنه ټول زندانيان، چې ۸۵ سلنه يې لويان دي (۷۹۹۰ کسان، چې له ۷۰۰۰ څخه ډېر يې نارينه او ۶۰۰ ښځې دي) او د تنکيو ځوانانو د زندانونو ۸۰ سلنه بنديان (شاوخوا ۵۰۰ تنکي ځوانان، چې ۲۰ نجونې هم پکې شاملې دي)، د راپورونو له مخې تر محاکمې دمخه توقيف شوي دي، چې زياتره يې په لومړي ځل محکمې ته د حاضرېدو په تمه وو. د واکمنو د زندانونو چارو د سمون ادارې د ټولو زندانيانونو د مديريت په موخه د زندانونو د ګڼې ګوڼې د کمولو لپاره ځينې ګامونه پورته کړي، چې په کې د جون مياشتې په لومړيو کې د واکمنو سترې محکمې څخه دا غوښتنه هم شامله وه چې د محاکمې تر مخه د توقيف شويو کسانو قضيو ته ژر رسيدګي وکړي. په پايله کې، د محاکمو پلاوو زندانونو ته سفرونه وکړل څو قضيې وڅېړي او په اړه يې پرېکړې وکړي. د لوی اختر په مناسبت، له ۹۰۰ څخه ډېر کسان له زندانونو آزاد شول، چې په کې په وړو جرمونو کې نيول شوي شکمن کسان لکه کوچنۍ غلاوې يا هغه کسان شامل وو چې د جرمونو د اثبات لپاره يې کافي شواهد نه وو او همدارنګه هغه کسان چې په جرمونو محکوم شوي او د نشه اي توکو کاروونکي چې د پاتې بند تېرولو ته يې لږه موده پاتې وه.

۳۸. د واکمنو د زندانونو چارو د سمون ادارې په جون مياشت کې د څارنې کمېټې په جوړولو سره د محابسو د وضعيت او شرايطو د څرانې د پياوړتيا او د توقيف شوو کسانو د حقونو خوندي کولو په موخه اساسي ګامونه هم پورته کړي دي. يادې کمېټې په جون او جولای مياشتو کې د هېواد ۱۵ زندانونو ته سفرونه وکړل څو د زندانيانو وضعيت و ارزوي او د دوی ستونزې واوري. د جولای مياشتې په نيمايي کې په زندانونو د کې د بشري حقونو د تطبيق او څارنې لپاره يو استازی وګمارل شو. يوناما د زندانونو چارو د سمون ادارې سره خپلو تخنيکي مشورو شريکولو ته دوام ورکړی څو وکولای شي د افغانستان د بشري حقونو مکلفيتونه په ښه توګه ترسره کړي.

۳۹. مالي محدوديتونو او د پخوانيو تمويلوونکو د مالي ملاتړ بندېدو د واکمنو د زندانونو چارو د سمون ادارې د نړيوالو معيارونو په پوره کولو کې د يادې ادارې پر چارو او وړتيا باندې د پام وړ اغېزه کړې ده. د می مياشتې په نيمايي کې يادې ادارې ډاډ ورکړی چې د زندانيانو ټوليز شمېر له ۱۰۰۰۰ تنو څخه زيات نه دی. که څه هم د لويانو او تنکيو ځوانانو زندانيانو لپاره د کافي خوړو او حفظ الصحي موادو برابرولو، مسلکي روزنې او زده کړو او روغتيايي اړتياوو په برخو کې ستونزې شته. د مالي ملاتړ

د نشتون له امله له کندز پرته په نورو زندانونو کې لا هم ماشومان له لویانو سره یو ځای په زندانونو کې ساتل کېږي، او جلا ځایونه ورته برابر شوي نه دي، سره له دې چې په دغه ولایت کې کوچنیان په یوه جلا برخه یا ځانګه کې ساتل کېدل څو له لږ تر لږه یو له بله سره جلا و اوسي. د یادونې وړ ده چې په ځینو مواردو کې انجونې له نورو ښځینه بندیانو سره هم یوځای ساتل کېږي.

## څلورم: اقتصادي پراختیا، د تمویل کوونکو همغږي او د مرستو اغېزمنتوب

۴۰. د افغانستان اقتصاد لا هم د سخت اقتصادي کمښت او هغه بانکي او مالي کړکېچ له امله چې د طالبانو له واکمنۍ وروسته رامنځته شوی، خورا سخت کمزوری شوی دی. ترلاسه شوي معلومات ښیي چې د جون تر میاشتې پورې د شپږو میاشتو عواید، چې د ګمرکاتو او غیر مالیاتي سرچینو له لارې راټول شوي، د تېر کال د ورته مودې له کچې سره برابر دي، او صادرات چې د ډېرو سکرو او مېوو له امله زیات شوي، د تېرې کچې په پرتله لوړ شوي دي. خو د مرستو د ناڅاپي بندېدو، سیاسي بې‌ثباتۍ، خدماتو ته د کافي لاسرسي نشتوالي، او د ښځو له اقتصادي فعالیت څخه د ایستلو له امله اقتصادي وده لا هم ورو پاتې شوې ده. د ملګرو ملتونو د ماشومانو صندوق (یونیسف) اټکل کوي چې په اوسني وضعیت کې، د نجونو له منځنیو زده‌کړو څخه محرومولو د تېرو ۱۲ میاشتو په ترڅ کې د افغانستان اقتصاد ته لږ تر لږه ۵۰۰ میلیونه امریکايي ډالره زیان اړولی دی. نړیوال بانک اټکل کوي چې د ۲۰۲۰ کال له پای څخه تر د ۲۰۲۲ کال تر پای پورې به ناخالص کورني تولیدات یو پر درېیو راکم شي. واکمنو چارواکو اعلان کړی چې د خصوصي سکتور په مشرۍ اقتصادي احیاء یې لومړیتوب دی، او له اړوندو وزارتونو، سوداګریزو خونو او خصوصي پانګه‌والو سره یې غونډې کړې څو د کانونو، کرنې، لبنیاتو او مالدارۍ په برخو کې پانګونه راجلب کړي او صادراتو ته وده ورکړي. د ملګرو ملتونو پراختیایي پروګرام (UNDP)، د استانبول د خصوصي سکتور د پراختیا نړیوال مرکز سره په ګډه، د جولای له ۴ تر ۷ نېټې پورې په استانبول کې یو ورکشاپ جوړ کړ، چې وروسته د جولای په ۲۶ نېټه په کابل کې د اړوندو ذینفع شریکانو ملي مشورتي ناستې ترسره شوې، څو د ادارو ترمنځ یوې پروژې د طرحې لپاره معلومات برابر کړي، چې موخه یې په افغانستان کې د خصوصي سکتور په مشرۍ اقتصادي احیاء هڅول دي.

۴۱. د یوناما د همغږۍ هڅې لا هم د بانکوالۍ او نغدینګۍ پر ننګونو متمرکزې دي. یوناما د افغانستان له سوداګریزو بانکونو، د افغانستان له مرکزي بانک، د نړیوالو معامله دارو بانکونو، د متحده ایالاتو له خزانې وزارت او د بهرنیو چارو وزارت، او همدارنګه له خصوصي سکتور سره همغږي کړې څو د بندیزونو د رعایت په چوکاټ کې د نړیوالو مالي لېږدونو لپاره لارې چارې ولټوي. یوناما همدا راز له واکمنو چارواکو او اړوندو ذینفع شریکانو سره د لومړیتوب ساحو لکه د بانکنوټونو چاپولو، پاسپورټونو چاپولو او د برېښنا پیسو تادیه کولو په اړه اړیکې او خبرې اترې کړي. یوناما په ورته وخت کې له متحده ایالاتو، نورو ذینفع شریکانو او همدارنګه واکمنو چارواکو سره د مرکزي بانک د کنګل شوو زېرمو د آزادولو شرایطو په اړه هم خپلو خبرو اترو ته دوام ورکړی دی.

۴۲. د ملګرو ملتونو له خوا افغانستان ته د بشردوستانه چارو او فعالیتونو لپاره جوړ شوی د نغدو پیسو لېږلو مسیر او لاره چې ملګرو ملتونو د کارکوونکو او قراردادیانو د معاشونو د ورکړې لپاره کارول کېږي، لا هم فعال دی. ملګرو ملتونو د ۲۰۲۱ کال د ډسمبر له لومړۍ نېټې څخه کله چې لومړني بانکنوټونه په الوتکو کې افغانستان ته ولېږدول شول، تر اګسټ ۲۲ نېټې پورې ۱.۰۳ میلیارده ډالره نغدې پیسې افغانستان ته لېږلې دي. دغه پیسې په مستقیم ډول د ملګرو ملتونو ۱۹ بېلابېلو ادارو، صندوقونو او پروګرامونو، نړیوال بانک او ۲۱ نړیوالو نادولتي مؤسسو ته ویشل شوې دي. د دغو نغدو پیسو لېږد د افغانۍ د ثبات په ټینګښت کې مرسته کړې او د اقتصادي هڅونې په توګه یې کار کړی، پرته له دې چې د واکمنې ادارې مستقیم ملاتړ

وکړي. یوناما همدارنګه د خپلو منځګړیتوب هڅو له لارې، د برېښنا ورکوونکو هېوادونو له سفیرانو او هغو افغان بانکونو سره چې نړیوالې پیسې لېږدولی شي، همغږي کړې، څو د افغانستان برېښنا شرکت ځینې پاتې پورونه د مرکزي آسیا د برېښنا عرضه کوونکو ته تادیه شي، ترڅو د برېښنا د پرې کېدو مخه ونیول شي.

۴۳. د افغانستان لپاره د ملګرو ملتونو بین‌الادارتي ځانګړی وجهي صندوق لا هم د انتقالي تعامل د چوکاټ لپاره د تمویل یوه مهمه سرچینه ده، چې تر دې دمه یې ۱۲۵،۶۴ میلیونه امریکايي ډالر تمویل ترلاسه کړی او له دې لارې یې په افغانستان کې د یو (۱) میلیون خلکو ملاتړ کړی دی. د دې صندوق د تطبیق فعالیتونه چې د ۲۰۲۲ کال د جنورۍ په لومړۍ نېټه پیل شوي، د اړینو خدمتونو، معیشت، ټولنیزې پیاوړتیا او مقاومت، پلان جوړونې او ټولنیز انسجام او بشري مرستو بشپړوونکو فعالیتونو په برخو کې د ځایي ټولنو په ملاتړ د دوی بنسټیزې انساني اړتیاوې پوره کړې دي. په ټولیز ډول، اته سیمه‌ییز ګډ پروګرامونه او د روغتیا په برخه کې یوه ګډه پروژه د ملګرو ملتونو د ۱۷ ادارو په همکارۍ جوړه شوې ده، چې "د یو واحد ملګري ملتونه" په توګه خدمات وړاندې کوي.

۴۴. د افغانستان لپاره د مرستو نوې طرحه د افغانستان همغږۍ ډلې سره له پراخو سلا مشورو وروسته په مۍ میاشت کې نهایي شوه. په دغه ډله کې د مرستندویه ادارو یا ډونرانو، ملګرو ملتونو ادارو او د نړیوالو مالي بنسټونو استازي غړیتوب لري. د مرستو دغه طرحه د روغتیا او تغذیې، زده‌کړې، کرنې او معیشت، بشري حقونو او جنډر، او اقتصادي ثبات په برخو کې د ستراتیژیکو موضوعي کاري ډلو له لارې عملي کېږي. دا کاري ډلې د سکتوري پلان جوړونې، پروګرام جوړونې او ارزونو په برخه کې مرسته کوي، څو د اوسنیو تمویلي میکانیزمونو ترمنځ لا زیاته اغېزمنتیا او غوره همغږي رامنځته شي، چې په کې د افغانستان بشردوستانه وجهي صندوق، د افغانستان ځانګړی وجهي صندوق، د افغانستان د بیارغونې وجهي صندوق، د افغانستان د زیربناوو وجهي صندوق او د افغانستان بشردوستانه وجهي صندوق شامل دي.

۴۵. یوناما د خطرونو د مدیریت د یو جلا واحد د جوړولو بهیر پیل کړی څو په افغانستان کې د ملګرو ملتونو د ادارو، صندوقونو او پروګرامونو له خوا اوس مهال پلې شوي د خطر مدیریت او د خطر د کمولو ټول سیستمونه او تدابیر سره همغږي او پیاوړي کړي.

### پنځم: بشري مرستې

۴۶. بشري اړتیاوې د چټک اقتصادي زوال او د څو لسیزو جګړو، وروستیو زلزلو، دوامداره طبیعي پېښو او اوږدمهاله زیان منونو د ګډو ویجاړوونکو اغېزو له امله لا پسې زیاتې شوي دي. په ۲۰۲۲ کال کې شاوخوا ۲۴،۴ میلیونه خلک، چې د اټکل شوې ټول نفوس ۵۹ سلنه جوړوي او له دې ډلې ۱۱،۸ میلیونه یې ښځې او نجونې دي، بشري مرستو ته اړتیا لري. دا شمېره د ۲۰۲۱ کال د پیل پر مهال د ۱۸،۴ میلیونو خلکو په پرتله لوړوالی ښيي.

۴۷. د ۲۰۲۲ کال د جنورۍ میاشتې څخه د جون میاشتې تر پای پورې، بشري مرستندویه شریکانو ۲۲،۹میلیونه خلکو ته لږ تر لږه یو ډول مرستې رسولې دي. لږ تر لږه ۲۰،۷ میلیونه خلکو ته خوراکي توکي برابر شوي، ۷،۷ میلیونه خلکو ته روغتیايي خدمتونه وړاندې شوي، ۳،۶ میلیونه تر پنځو کلونو کم عمره ماشومان او میندواره او شیدې ورکوونکې ښځې د شدیدې خوارځواکۍ د درملنې تر پوښښ لاندې راغلي دي، ۷،۶ میلیونه خلکو ته د اوبو، حفظ الصحې او نظافت مرستې برابرې شوې دي، ۴۵۳۰۰۰ ماشومانو ته د زده‌کړو په برخه کې مرستې رسول شوي، ۱،۴ میلیونه خلکو ته سرپناه او د کور وسایل برابر شوي، او ۳،۲ میلیونه خلکو ته د خوندیتوب اړوند مرستې رسول شوې دي. د اګست تر ۲۰ نېټې پورې د بشردوستانه غبرګون پلان یوازې ۴۱،۸ سلنه تمویل شوی، او شاوخوا ۲،۵۹ میلیارده امریکايي ډالرو نور تمویل ته اړتیا لري.

۴۸.	د افغانستان په سویل ختیځ کې د جون په ۲۲ نېټه د ریښتر په کچه ۵،۹ درجې زلزلې وروسته د بشري مرستو رسولو هڅې لا هم روانې دي. تر دې دمه، ۱،۲ میلیونه خلکو ته لږ تر لږه د مرستو یوه بڼه رسول شوې ده، چې په کې ۱،۲ میلیونه خلکو ته د اوبو، حفظ الصحې او نظافت مرستې، ۱۲۱۰۰۰ خلکو ته د خوړو او کرنې په برخه کې مرستې، ۸۳۰۰۰ خلکو ته بېړنۍ سرپناه او د کور وسایل، ۱۱۲۰۰۰ خلکو ته روغتیایي خدمتونه، او ۶۶۰۰۰ خلکو ته د خوندیتوب اړوند مرستې برابرې شوې دي. سربېره پر دې، ۶۷۰۰۰ خلکو څو موخه‌ییزې نغدي مرستې هم ترلاسه کړې دي. د ماین پاکۍ خدمتونو ادارې د بشري ماین پاکۍ سکتور کې همغږي رامنځته کړې، څو په اغېزمنو سیمو کې د چاودېدونکو ګواښونو ارزونه ترسره کړي او د بشري مرستو کارکوونکو ته د لاسرسي زمینه برابره کړي.

۴۹.	حاد غذایي مصؤونیت او خوارځواکي لا هم دوام مومي. د ۲۰۲۲ کال د جون او نومبر ترمنځ (د حاصلاتو له موسم وروسته)، د خوړو په مصؤونیت کې لږ ښه‌والی اټکل شوی، او د هغو خلکو شمېر چې له حاد غذایي مصؤونیت سره مخ دي ښايي ۱۸،۹ میلیونو ته راکم شي. خو دا شمېره د تېر کال د همدې مودې په پرتله نږدې ۹۸ سلنه زیاتوالی ښيي (چې هغه مهال ۹،۵ میلیونه کسان وو). له دې ۱۸،۹ میلیونو کسانو څخه، ۶ میلیونه کسان داسې ښودل شوي چې ښايي د خوړو د "اضطراري" کچې له عدم مصؤونیت سره مخ شي. د سخت اقتصادي رکود او د عایداتو د کمېدو، د وچکالۍ فلج کوونکو اغېزو، د خوراکي توکو د بیو لوړېدو، او د غله جاتو پر وارداتو اغېزو د خلکو د خوړو او معیشت عدم مصؤونیت نور هم زیات کړی دی.

۵۰.	د جنورۍ ۱ نېټې او اګست ۱۳ نېټې ترمنځ موده کې د شري ۶۵۴۷۰ مشکوکې پېښې ثبت شوې، چې شاوخوا ۷۸ سلنه یې د پنځو کلونو څخه کم عمره ماشومانو کې وې، او له امله ۳۶۷ تنه مړه شوي دي. ملګرو ملتونو د مۍ له ۱۶ نېټې څخه د اګست تر ۲۰ نېټې پورې له ۱،۸۳ میلیونو څخه زیات ماشومان د شري پر وړاندې واکسین کړي دي. د ورته مودې پر مهال د ۳۴ ولایتونو په ۱۳۰ ولسوالیو کې د حاد اوبېز اسهال او د بدن د اوبو کمښت ۱۱۸۷۹۷ پېښې ثبت شوې، چې د مړینې کچه یې ۰،۰۳ سلنه وه. د دغو ټولو پېښو ۵۵ سلنه یې له پنځو کلونو کم عمره ماشومانو کې ثبت شوې دي. تر دې دمه په ۲۰۲۲ کال کې، افغانستان د وحشي پولیو ویروس ډول ۱ یوازې یوه پېښه ثبت کړې او د واکسین څخه د راپیدا شوي پولیو ویروس ډول ۲ هېڅ پېښه نه ده ثبت شوې. په ۲۰۲۲ کال کې د پولیو واکسین پنځه ملي کمپاینونه ترسره شوي، چې په هر کمپاین کې ۹،۹ میلیونه ماشومانو ته واکسین شوي دي، او په کې د کور په کور او جومات په جومات د واکسین تطبیق طریقې کارول شوې دي.

۵۱.	د جنګ جګړو اړوند صدمو او ټروما پېښې د مۍ له ۱۶ نېټې څخه د اګست تر ۲۰ نېټې پورې د ۲۰۲۱ کال د همدې مودې په پرتله ۸۷ سلنه کمې شوې دي. د جون له میاشتې څخه د اګسټ تر نیمایي پورې، له ۳۷۰۰ څخه زیاتو کسانو ته د صدمو او بیړنۍ درملنې خدمتونه وړاندې شوي دي. ګرځنده روغتیایي او د تغذیې ټیمونه لا هم د هېواد په لرې او نسبتاً لرې پرتو سیمو کې خلکو ته رسېدنه کوي، او هره میاشت تر ۳۵۰۰۰۰ څخه زیاتې طبي مشورې وړاندې کوي. د جنورۍ له ۱ نېټې څخه د اګسټ تر ۲۰ نېټې پورې، ۲۶۳۱۷ هغه ماشومان چې د شدیدې حادې خوارځواکۍ او طبي اختلاطاتو سره مخ وو، په ۱۲۳ داخل بستر روغتیایي ځانګو کې بستر او درملنه یې شوې ده.

۵۲.	په داسې حال کې چې د ۲۰۲۱ کال له سپټمبر راهیسې د پوځي عملیاتو او تاوتریخوالي فعالیتونو د پام وړ کمېدو د دې زمینه برابره کړې چې همکارې ادارې هغو سیمو ته ورسېږي چې پخوا ورته لاسرسی نه و، خو د لاسرسي په برخه کې نور خنډونه لا هم پر ځای پاتې دي. په دې کې د ښځینه بشري کارکوونکو پر تګ راتګ لګېدلې محدودیتونه شامل دي، چې له امله یې ښځو او نجونو ته ګټور او اغېزمن لاسرسی لا هم ستونزمن دی. د بشردوستانه کړنو د تطبیق پر مهال د لاسوهنو پېښې لا هم زیاتې

دي چې د مې میاشتې له ۲۴ نېټې څخه د اگسټ تر ۲۰ نېټې پورې ۱۳۵ پېښې ثبت شوي دي، حال دا چې د تېر کال د ورته مودې پر مهال دا پېښې ۹۷ ښودل شوي دي. د ۲۰۲۲ کال له پیل راهیسې، د بشردوستانه مرستو رسوونکو کارکوونکو، شتمنیو او تاسیساتو پر وړاندې د تاوتریخوالي او گواښونو ۲۰۳ پېښې ثبت شوې دي، چې د تېر کال د ۳۱۱ پېښو په پرتله کموالی ښيي. په ۲۰۲۲ کال کې ۱۲ داسې پېښې ثبت شوې چې ښځینه مرستندویه کارکوونکې د ځايي واکمنو چارواکو له خوا گواښل شوې او تهدید شوې دي. د راپور ورکولو په موده کې د روغتیايي کارکوونکو پر وړاندې درې د بریدونو پېښې هم ثبت شوې دي.

۵۳. د مې میاشتې له ۲۲ نېټې څخه د اگسټ تر ۲۰ نېټې پورې ټولټال ۱۹۷۸۵۱ کسان افغانستان ته راغلي دي چې له دې ډلې ۹۰۶۸۶ کسان له نورو هېوادونو جبري ویستل شوي او ۱۰۷۱۶۵ کسان په خپله خوښه بېرته هېواد ته راستانه شوي دي. همدا راز په همدې موده کې، ۱۷۹۵۸۴ بې اسنادو افغان کډوال له ایران او ۱۸۲۶۷ کسان له پاکستان څخه بېرته افغانستان ته راستانه شوي دي. ټولټال ۱۵۳۳ افغان کډوال چې د ملگرو ملتونو د کډوالو عالي کمېشنرۍ د داوطلبانه ستنېدو پروگرام له لارې راغلي، له پاکستانه (۱۲۹۸ کسان)، له ایران نه (۲۳۰ کسان) او له نورو هېوادونو (۵ کسان) بېرته افغانستان ته راستانه شوي دي. له دې ډلې ډېری (۱۳۳۸ کسان) د مې له ۱ نېټې څخه د اگسټ تر ۷ نېټې پورې بېرته هېواد ته راستانه شوي دي. له ۲۰۱۲ کال راهیسې شاوخوا ۵،۸ میلیونه خلک د جگړو او طبیعي پېښو له امله بې ځایه شوي دي. یوازې په ۲۰۲۱ کال کې له ۸۶۶۰۰۰ څخه ډېر کسان د جگړو له امله بې ځایه شوي، چې له دې ډلې ۸۵ سلنه یې د ۲۰۲۱ کال د اگسټ له ۱۵ نېټې مخکې بې ځایه شوي دي. د ۲۰۲۲ کال د جنورۍ له ۱ نېټې څخه د اگسټ تر ۲۰ نېټې پورې نږدې ۳۰۰۰۰ کسان د جگړو له امله تازه بې ځایه شوي دي.

۵۴. د جنگ جگړو څخه پاتې چاودېدونکي توکي او ځای پر ځای شوي چاودېدونکي توکي (IEDs) لا هم د ملکي وگړو او بشري مرستو د کارکوونکو لپاره یو جدي گواښ دی. د ماین پاکۍ خدمتونو ادارې د راپور ورکولو په موده کې د ۸،۳۹ کیلو متره مربع څخه زیاته ککړه ځمکه سروې او پاکه کړې، او په خوندي ډول یې زرگونه د جگړې پاتې چاودېدونکي توکي او ځای پر ځای شوي چاودېدونکي مواد لرې کړي دي. ټولټال ۹ میلیونه خلکو ته د ډلهییزو رسنیو له لارې د چاودېدونکو توکو د خطرونو د پوهاوي پیغامونه رسېدلي دي، په داسې حال کې چې ۲۱۴۹۴۹ کسانو، چې ۸۰۷۱۲ یې ښځې او نجونې دي، په ټولنو کې د چاودېدونکو توکو د خطرونو اړوند زده‌کړې ترلاسه کړې دي. تر اگسټ ۲۰ نېټې پورې د ماین پاکۍ ۱۰۰ سلنه ټیمونه فعال وو، چې ۳۹۴۶ تنه پکې په کار بوخت وو.

**شپږم: نشه اي توکو سره مبارزه**

۵۵. د واکمنو چارواکو لخوا د اپریل په ۲ نېټه د کوکنارو او هر ډول نشه اي توکو پر کښت د بندیز فرمان سره سم، او وروسته له هغې چې د دوه میاشتو مهلت موده پای ته ورسېده څو بزگرانو ته اجازه ورکړل شي چې د کوکنارو شیره راټوله او د ۲۰۲۲ کال حاصلات وپلوري، واکمنو چارواکو په هلمند او ارزگان ولایتونو کې د کوکنارو د دوهم فصل د له منځه وړلو عملیات ترسره کړل. د دغه فرمان له اعلان وروسته د نشه اي توکو، په ځانگړي ډول د کوکنارو بیې د پام وړ لوړې شوې. د ۲۰۲۲ کال د جون تر پای پورې په ملي کچه د وچو او تازه کوکنارو د یوه کیلو گرام د کرکيلې ځمکې پر سر بیه په ترتیب سره ۱۹۸ امریکايي ډالره او ۱۲۶ امریکايي ډالره وه. دغه مخکنۍ بیه د ۲۰۲۱ کال د جون په میاشت کې د فی کیلوگرام ۷۹ امریکايي ډالرو په پرتله له دوه چندو څخه هم زیاته ده. د کوکنارو د بندیز د احتمالي منفي اغېزو په پام کې نیولو سره، چې د افغان بزگرانو پر ټولنیز او اقتصادي وضعیت اغېز کولای شي، او سره له دې چې د دوهم (یا د اوړي فصل) حاصلات د اصلي فصل په پرتله نسبتاً کم وو، واکمنو چارواکو د نشه اي توکو او جرمونو پر وړاندې د ملگرو ملتونو دفتر (UNODC) څخه د بدیلو معیشتونو په برخه

کې د مرستې غوښتنه وکړه. یاد دفتر له زندانیانو سره د مرستې لپاره چې د نشه اي توکو کاروونکي هم پکې شامل دي، اړینې طبي مرستې برابرې کړې.

**اووم: د ماموریت ملاتړ**

.۵۶ په یوناما کې د جولای تر ۳۱ نېټې پورې د نړیوالو کارکوونکو لپاره د تشو بستونو کچه ۱۴ سلنه، د ملګرو ملتونو د رضاکارانو لپاره ۱۲ سلنه، د داخلي مسلکي افیسرانو لپاره ۱۲ سلنه او د داخلي کارکوونکو لپاره ۱۰ سلنه وه، حال دا چې منظور شوې کچه په ترتیب سره ۸ سلنه، ۷ سلنه، ۳ سلنه او ۳ سلنه دي. د ښځینه کارکوونکو ونډه د نړیوالو کارکوونکو لپاره ۳۲ سلنه، د ملګرو ملتونو رضاکارانو لپاره ۳۷ سلنه، د داخلي مسلکي افیسرانو لپاره ۱۲ سلنه او د نورو داخلي کارکوونکو لپاره ۹ سلنه وه. په الماته کې د ملګرو ملتونو په ګډو اماکنو او مرکزونو کې د یوناما دفتر لا هم فعال دی، په داسې حال کې چې په افغانستان کې د نړیوالو کارکوونکو ډېره برخه بېرته د ماموریت ساحې دننه د خپلو دندو مرکزونو ته ستانه شوي دي.

**اتم: مشاهدات**

.۵۷ په افغانستان کې د ملګرو ملتونو شتون لا هم د افغان ولس د ملاتړ لپاره ځانګړی شوی دی. یوناما د بشري مرستو د پراخولو، د اقتصادي کړکېچ د مخنیوي، او د ټولو افغانانو لپاره د بنسټیزو بشري حقونو او آزادیو د ودې او ملاتړ په برخه کې د خپلو هڅو له لارې له واکمنو چارواکو سره تعامل کړی، څو اساسي اړتیاوې پوره او د افغانانو حقونه ډاډمن او خوندي کړي. یوناما د افغان ټولنو او واکمنو چارواکو ترمنځ د خبرو اترو اسانتیا برابره کړې، په ځانګړي ډول په محلي کچه، څو ټولګډونه، مشترکه او ځواب ویونکي حکومتولي رامنځته شي. د طالبانو غبرګون په دې اړه چې دوی تر کومه حده غواړي له نړیوالو سره تعامل وکړي، لا هم مبهم دی، په داسې حال کې دوی په رسمیت ندي پېژندل شوي او له نورو هېوادونو سره د دوی تعامل د شریعت د خپل تفسیر له مخې مشروط ګڼل کېږي.

.۵۸ په واکمنه اداره کې د ټولشمولیت، مشورې او استازیتوب د میکانیزمونو نشتوالی لا هم د اندېښنې وړ دی. هغه اقدامات چې پخواني دولتي چارواکي بېرته افغانستان ته د راستنېدو لپاره هڅول کېږي، او همدارنګه د پخوانیو مخالفینو لپاره په رسمي ډول اعلان شوې عفوه او عمومي بښنه، کولای شي د پراخې ملي پخلاینې لپاره یو احتمالي بنسټ جوړ کړي، په ځانګړي ډول که دغو کسانو او نورو ته اجازه ورکړل شي چې د خپل هېواد په پرمختګ کې د خپلو مهارتونو کارولو له لارې ونډه واخلي.

.۵۹ دا خورا مهمه ده چې د سختو دریځونو له تبادلې څخه هاخوا، داسې خبرو اترو ته لاره هواره شي چې افغان وګړي يې په محور کې وي. د طالبانو اوسنی سیاسي دریځ ښايي د راتلونکي بې‌ثباتۍ تخم وکري، په تېره بیا هغه مهال که چېرې د افغان خلکو اړتیاوو ته رسېدنه ونه شي، د هغوی حقونه محدود شي، او د هېواد تنوع په حکومتي جوړښتونو کې په مناسبه توګه انعکاس ونه مومي.

.۶۰ امنيتي وضعیت په وروستیو میاشتو کې د اندېښنې وړ دی لکه؛ د داعش خراسان ډلې له خوا د بریدونو لړۍ، د طالبانو د واکمنو امنيتي ځواکونو او وسله‌والو مخالفو ډلو ترمنځ دوامداره نښتې، او په افغانستان کې د بهرنیو ترهګرو ډلو دوامداره شتون. د طالبانو هغه ژمنه چې هېڅ ډله یا فرد به د افغانستان خاوره د نورو هېوادونو د امنیت پر ضد نه کاروي، باید په عمل

کې ثابته شي. د طالبانو له مشرتابه غوښتنه کېږي چې د ترهګرۍ ضد په جدي خبرو اترو کې برخه واخلي، څو د دغو ګواښونو پر ضد نړیواله همکاري پیاوړې شي، او په ورته وخت کې د نړیوالو قوانینو له مخې خپل مکلفیتونه هم پوره کړي.

۶۱. زه پر واکمنو چارواکو او نړیوالې ټولنې غږ کوم چې د افغانستان د بشري حقونو د وضعیت په اړه د یوناما په راپور کې، چې د ۲۰۲۱ کال د اګست له ۱۵ څخه د ۲۰۲۲ کال د جون تر ۱۵ نېټې پورې موده رانغاړي، شاملې سپارښتنې په عملي ډول پلې کړي. دغه سپارښتنې په هېواد کې د بشري حقونو د وضعیت د ښه والي لپاره تفصیلي اقدامات وړاندې کوي. د واکمنو چارواکو او یوناما ترمنځ د بشري حقونو عملي، په اصولو او شرایطو ولاړې خبرې اترې کولای شي د حساب ورکونې د پیاوړتیا او د بشري حقونو د سرغړونو او ناوړه ګټې اخیستنې د مخنیوي لپاره بنسټ کېږدي، چې د بشري حقونو د مدافعینو، ښځو او نجونو پر وړاندې سرغړونې هم پکې شاملې دي.

۶۲. د جدي اندیښنې وړ خبره دا ده چې د واکمنو چارواکو غړي لا هم د ښکاره معافیت په درلودلو سره غیر قانوني وژنې، شکنجه، ناوړه چلند، او د پخوانیو دولتي چارواکو، د افغانستان د ملي دفاعي او امنیتي ځواکونو د پخوانیو غړو، او هغو کسانو چې د داعش خراسان ډلې او د ملي مقاومت جبهې سره په اړیکو درلودلو تورن دي، خپلسري نیونې او توقیفونه ترسره کوي. همدارنګه واکمن چارواکي باید د بشري حقونو د درناوي په اړه خپلې ښکاره ژمنې، په ځانګړې ډول عمومي بښنه، عملي وساتي، او هغه کسان چې د بشري حقونو د سرغړونو مسؤل دي، حساب ورکولو ته راوبولي، او همدارنګه اړین اقدامات وکړي څو د دغو سرغړونو د بیا تکرار مخه ونیول شي.

۶۳. د افغان مېرمنو او نجونو پر حقونو لګول شوي دوامداره محدودیتونه به د افغانستان پر بیارغونې او ثبات باندې اوږدمهاله زیانمنوونکې اغېزې ولري. د ښځو د حقونو د محدودولو لپاره پر مقرراتو او لارښوونو تکیه کول د وېرې او فشار فضا لا پیاوړې کوي، او دا وضعیت هغه مهال نور هم سختېږي کله چې واکمن چارواکي د دغو لارښوونو د رښتیني یا احتمالي نه رعایت له امله افرادو ته ظالمانه، غیر انساني او سپکوونکې سزاګانې ورکوي. د راپورونو له مخې، ښځې د "سرغړونو"په تور په ناعادلانه ډول ډېرې په نښه کېږي. واکمن چارواکي باید ګامونه پورته کړي څو هغه کارکوونکې چې د دغو کړنو مسؤل دي حساب کتاب ورسره وکړي، او د دغه ډول پېښو د بیا تکرار مخه ونیسي.

۶۴. واکمن چارواکي باید د افغانستان هغه ژمنې عملي کړي چې د یوه غړي دولت په توګه یې د تبعیض نه کولو او برابرۍ اړوند نړیوالو اصولو، معیارونو او نورمونو د رعایت او پلي کولو په برخه کې کړې دي. زه له واکمنو چارواکو څخه په کلکه غوښتنه کوم چې د محرم او اسلامي حجاب اړوند لارښوونو باندې له سره غور وکړي، او د هغوی سپارښتنېز او غیر اجباري ماهیت روښانه کړي، څو د ښځو او نجونو لپاره په زده‌کړو، کارموندنه او د ورځني ژوند په ټولو نورو برخو کې د ګډون زمینه برابره شي. د ښځو او نجونو لپاره د ښه کیفیت زده‌کړو ته د لاسرسي اسانتیا او پراختیا د افغانستان د بیارغونې او راتلونکې پرمختګ لپاره خورا مهمه ده.

۶۵. د واکمنو چارواکو له خوا پر خبریالانو او د مدني ټولنې پر فعالانو د دوامدار فشار له امله د مدني فضا تنګېدل د جدي اندېښنې وړ دي. له واکمنو چارواکو په کلکه غوښتنه کېږي څو د خبریالانو او د مدني ټولنې د غړو خوندیتوب تضمین کړي، او د ټولو افغانانو، ښځو او نارینه‌وو لپاره د نظر، بیان، سوله ایزو غونډو او راټولېدو او ټولنو جوړولو بنسټیزو ازادیو ته درناوی وشي او هغه دې ترویج شي.

۶۶. افغان وګړي لا هم د ځای پر ځای شوو چاودېدونکو توکو د بریدونو او د جګړو له وخته د پاتې چاودېدونکو توکو له امله د پام وړ زیانونه ویني، چې له جګړو پاتې چاودېدونکې توکي تر نورو ډېر ماشومان زیانمنوي. د ماین پاکۍ او د پوهاوي لوړولو

هغه فعالیتونه چې له جنګ جګړو پاتې چاودېدونکو توکو د خطر د مخنیوي لپاره ترسره کېږي، باید لومړیتوب وګرځول شي، څو ملکي وګړي، په تېره بیا ماشومان نور د دغو خطرونو له امله زیانمن نه شي.

۶۷.	که څه هم واکمنو چارواکو هڅه کړې څو له بندیانو سره د چلند لپاره د نړیوالو معیارونو له مخې لږ تر لږه معیارونه پوره کړي، خو لا هم د هغو افغانانو د حقونو د درناوي په برخه کې د پام وړ نیمګړتیاوې موجودې دي چې له خپلو آزادیو څخه محروم شوي دي. سیمه‌ایزو او نړیوالو سازمانونو او همدارنګه نړیوالې ټولنې ته په کار ده چې د زندانیانو د اساسي اړتیاوو د پوره کولو لپاره د مالي ملاتړ د زیاتولو امکان په پام کې ونیسي لکه؛ د خوړو، طبي او د البسې اړتیاوو برابرول، تعلیمي او حرفوي روزنه، او همدارنګه په زندانونو کې د روغتیایي او تعلیمي کارکوونکو د ګومارنې ملاتړ.

۶۸.	یوناما به په همدې حال کې له واکمنو چارواکو سره په ګډه خپلو هڅو ته دوام ورکړي څو د تطبیق وړ حقوقي چوکاټ روښانه شي او د عدلي او قضایي سکتور په برخه کې وړ پخواني عدلي کارکوونکي، په ځانګړې ډول ښځې، شامل شي، څو د خپلسري چلند کچه راکمه شي، د بشري حقونو، په تېره بیا د ښځو حقونو د تأمین زمینه برابره شي او د محکمو خپلواکي او د عادلانه محاکمې له معیارونو سره د هغوی مطابقت لا زیات او پیاوړی شي. یوناما به همدارنګه د مدافع وکیلانو د ونډې اخیستنې لپاره هڅونه وکړي، څو د قانوني پوهاوي په لوړولو او د خلکو د حقونو ته د لاسرسي په برخه کې کار وکړي، چې دا د عدلي نظام یو مهم رکن ګڼل کېږي. د ښځینه مدافع وکیلانو نشتون لا هم د ښځو د خپلو حقونو په اړه د پوهاوي او د قضایي او غیر قضایي حل لارو له لارې په اغېزمنه توګه د زیان د جبران ترلاسه کولو په وړاندې جدي ګواښ جوړوي، په ځانګړې ډول د هغو قضیو لپاره چې د ښځو پر وړاندې د تاوتریخوالي سره تړاو لري.

۶۹.	په داسې حال کې چې د ملګرو ملتونو او بشري مرستندویه شریکانو هڅو د افغانستان د ډېرو زیانمنو خلکو د اساسي اړتیاوو په برخه کې یو څه آسانتیا رامنځته کړې، د اوسنیو اټکلونو له مخې، بېوزلي، د خوړو عدم مصؤونیت، او د سخت ژمي رانږدې کېدل به د افغانانو لپاره د زغم وړ نه وي. د بشري غبرګون پلان لا هم یوازې ۴۱،۸ سلنه تمویل شوی ، چې شاوخوا ۲،۵۹ میلیارده امریکایي ډالره کسر لري، سره له دې چې د مارچ په میاشت کې د نږدې ۲،۴ میلیارده ډالرو ژمنې شوې وې. زه پر مرسته کوونکو هېوادونو غږ کوم چې خپل د مالي ملاتړ ژمنې له سره تازه کړي، څو ژوند ژغورونکې مرستې د ژمي له موسم څخه مخکې لا زیاتې او چټکې شي. همدارنګه زه له مالي تمویلوونکو او ډونرانو څخه غوښتنه کوم چې د اساسي خدمتونو او د هغو ټولنیزو سیستمونو د ساتنې لپاره چې له لارې یې بشري مرستې خلکو ته رسېږي، دوامداره ملاتړ ته دوام ورکړي. اغېزناک بشردوستانه ملاتړ زیانمنو شوو خلکو ته له خنډ او ځنډ پرته لاسرسي او د ښځینه کارکوونکو په ګډون د بشري مرستو رسولو کارکوونکو د بشپړ خوندیتوب پرته ستونزمن او ناشونی دی. د بشري مرستو کارکوونکي باید په خپلو ټولو فعالیتونو کې عملیاتي خپلواکي ولري، چې په کې د وسله‌والو ساتونکو له ملتیا پرته تګ راتګ هم شامل دی.

۷۰.	د بېوزلۍ کمول او د اساسي توکو او خدمتونو رسول په ټوله کې په پایداره اقتصادي وده پورې تړلي دي. واکمنو چارواکو اعلان کړی چې د خصوصي سکتور په مشرۍ اقتصادي وده یې لومړیتوب دی. د خصوصي سکتور په مشرۍ د اغېزناکې اقتصادي بیارغونې لپاره د پولي سیاست ابزارونو څخه کار اخیستل، د نړیوالو بانکي اړیکو عادي کېدل، او د اقتصاد په تولیدي برخو لکه کرنه، کان کیندنه، کوچني او منځني تشبثات، او د سوداګرۍ اسانتیاوو کې پانګونه اړینه ده چې د کاري فرصتونو پیداکولو زمینه برابروي. اقتصاد هغه ساحه ده چې پکې واکمن چارواکي، اقتصادي لوبغاړي او نړیوال ذینفع شریکان کولای شي ګډې موخې وټاکي لکه د کاري فرصتونو زیاتوالی، د بېوزلۍ د وضعیت ښه والی، د بشري پانګې وده، د چاپېریالي مقاومت پیاوړتیا او سیمه‌ایز اتصال. اغېزمن اقتصادي سیاستونه د ښځو مساوي ګډون ته په ټولو برخو کې اړتیا لري. د مرستو د جریان بیا پیل تر ډېره د واکمنو چارواکو د هغو تګلارو په بدلولو پورې تړلی دی، چې محدودوونکې ګڼل کېږي.

۷۱. یو سوله‌ایز او باثباته افغانستان پر لور پرمختګ، چې په بشپړ ډول د نړیوالو ملتونو له ټولنې سره مدغم وي او د افغان حاکمیت، مشرتابه او مالکیت له اصولو سره سم وي، خبرو اترو، باور جوړونې او دوه اړخیزې هوکړې ته اړتیا لري. د دې لپاره چې سوله ټینګه او پایښت ومومي، باید د ټولو افغانانو د اساسي حقونو او آزادۍ په ساتنه ولاړه وي، او داسې ټولګډونه او مشترکه حکومتولي رامنځته شي چې د خلکو هیلې او ګټې منعکسې کړي او همدارنګه د امنیت او ترهګرۍ پر وړاندې مبارزې هر اړخیز تضمینونه ولري. ملګري ملتونه د افغانانو د ګټې لپاره د دې هڅو ملتیا ته ژمن دي.

۷۲. زه په افغانستان کې د خپل ځانګړي استازي د مرستیالانو، مارکس پوټزل او رامز الاکبروف تر مشرتابه لاندې د ملګرو ملتونو د ټولو کارکوونکو او نادولتي همکارو مؤسسو څخه په خورا ننګوونکو شرایطو او د افغانانو لپاره په یو خورا ستونزمن وخت کې، د دوی له دوامداره کوښښونو او خدمتونو څخه د زړه له کومې مننه کوم.

---------------